پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۰۹/۰۶/۱۱م

# داروپایی اتحادیی جوړښت، دندی او لنډ تاریخ

د روان ۲۰۰۹ کال دجون په ۷ نیټه داروپايي اتحاديي (EU ) دپارلمان دپاره په غړو هیوادونو کی ټولټاکنی ترسره او په رسنیو کی یی پراخ غبرګون وموند . تر هغه ځایه چی ما ته څرګنده ده ان دهغو افغانانو ډیری چی په پخپله په اروپا کی داوړدو کلونو راهیسی میشت دی ، دنړی په کچه ددغه ډیر مهم اروپایی ارګان په اړه یی یا د پوره معلوماتو ترلاسه کولو موقع پلاس نده ورغلي او یا به یی هم پام نه وی ور اړولي , ځکه یی نو په هکله ډیر لږ معلومات لری . له همدی لامله غواړم دEU دکړو وړو په اړوند لاندی څو لنډی کرښی دلوستونکو سره شیریکی کړم :

د EU دجوړیدو موخی :

ددغه کار بنسټیزه موخه په اروپاکی په ګډه سره دګډوستونزو حلول دی چی اقتصادی اوټولنیزه پرمختیا , په نړی کی داروپا درول جګول , داروپایي اوولسونو دحقوقو اوګټو ساتل او همدارنګه ددوی دازادیو , امنیت اوټولنیز عدالت تامینول یی په سرکی راځی . ددغو موخو دباوری ترلاسه کولو په هیله اتحادیی یو لړ موسسی یا انستیتوتونه هم منځته راوستي دی .

د EU لنډه تاریخچه :

دویم نړیوال جنګ په اروپاکی پراخه ویرانی منځته راوستل او خیرغوښتونکي سیاستوال یی پدی سوچ کی واچول چی څنګه وکولای شی دداسی ناورین دبیا پیښیدو مخنیوی او دتیر شوی جنګ نه د راپاتو ناخوالو او ورانیو بیا رغاونه وکړی . هغه مهال په اروپايي نقشه کی ډیر بدلون راغلي وو او اروپا نوره دنړی دپیښو مرکز نه ګڼل کیدله ځکه امریکا او شوروی اتحاد دداسي سترو زبرځواکونو په توګه راڅرګند شول چی نړی یی پر دوو لویوسیاسی قطبونو وویشل .

دا ډول توکو لکه د ډبرو سکرو اوفولادو د دویم جنګ په پرمخ بیولو کی خورا لوی رول درلود . ددی پخاطر چی ددغو موادو څخه دبل جنګ دپاره کار وانه خیستل شی , شپږو هیوادونو لکه فرانسی , المان , ایتالیا , بلجیم , هالیند او لوکزامبورګ پخپلو کی پدی اړه په ۱۹۵۲ کال یو تړون لاسلیک کړ .

څو کاله وروسته په ۱۹۵۸ کی دغو ٦ هیوادنو یو ګام مخته واخیست چی اروپی اقتصادی ګډه ټولنه او داروپایی اټمی انرژۍ ګډه ټولنه یی جوړه کړه . دی کار دیوه پراخ ګډ بازار د رامنځته کولو دپاره لاره پرانیستل . ورو ورو د٦ هیوادونو سره یو په بل پسی نور اروپایی هیوادونه هم ملګری شول . په اتیایمو کلونو کی دی ګډ بازار دومره وده وکړه چی هلته توکو ( اجناسو ) , خدماتی چارو , اشخاصو او پانګی ازاد دوران او تګ راتګ کولای شو .

په ۹۰ - یمو کلونو کی دماستریخت Maastricht تړون منځته راغی چی له مخی یی باید ګډ پولي واحد ټاکل شوی وای . پر همدی بنسټ په ۲۰۰۲ کال داروپا دوولسو ۱۲ هیوادونو ( ایورو ) دګډو پیسو په توګه ومنل . وروسته یی دخارجی او امنیتي سیاست , دپناه ورکولو او مهاجرت سیاست ګډ اړخونه هم دځان دپاره وټاکل . دنوموړی تړون له مخي داروپايي ګډ بازار نوم و اروپایی اتحادیی ( UE ) ته واوښت .

په ۲۰۰۱ کال د Nice تړون سره سم اتحادیی ته نوره هم دپراختیا لاره خلاصه او په ۲۰۰٤ کال لس نورهیوادونه ورننوتل . دی کار پخپل وار دیوه ګډ اساسی قانون اړتیا منځته راوستل . خو په ۲۰۰۵ کال دفرانسی او هالیند خلکو په ټولپوښتنو کی دی قانون ته منفی رایی ورکړی چی ورسم یی لړی وځنډول شوه او لاتر اوسه یی هم برخلیک پوره روښانه ندی .

دا مهال په EU کی ټولټال ۲۷ هیوادونه غړیتوب لری او په لاندی کلونو کی ورګډ شویدی :

- انګلستان , ایرلیند او ډنمارک په ۱۹۷۳ کال .
- یونان په ۱۹۸۱ .
- هسپانیه او پورتګال په ۱۹۸٦ .
- اطریش , فنلیند اوسویدن په ۱۹۹۵ .
- قبرس , چک , استونیا , لاتویا , لیتوانیا , هنګری , مالتا , پولیند , سلواکیا او سلاوینیا په ۲۰۰٤ کال .
- بلغاریا او رومانیا په ۲۰۰۷ کال .

اروپایی اتحادیه دغړو هیوادونو دپاره په هغو برخو کي چی تړون ښودلي دی , قوانین تصویبوی . په اتحادیه کی د غړو هیوادونو تر منځ دګډ کار دغه شکل له دوديز نړیوال ګډ کار نه لوړ او فراملیتی دی . ددی خبری مانا داده


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

چې په دوديز شکل کې نړيوال تړونونه هغه وخت اجرائيوي واک ترلاسه کوي چې دتړون په اړوندو هيوادونوکې يې پارلمانونه تائيد کړی . مګر په EU کې دی کار ته ضرورت ځکه نشته چې غړو هيواونو دخپلو پارلمانو يوه برخه تقنيني واک نوموړی اتحاديې ته سپارلې دی . په اتحاديه کې که يو غړی هيواد ديوه قانون په اړوند منفی رايه هم ورکړی او قانون داکثريت په رايو تصويب شی , تول غړي هيوادونه يې داجراکولو مکلفيت لری .

يو بل شی چې EU ته د دوديزو نړيوالو نړيوالو همکاريو نه توپير ورکوی , هغه ديو لړ موسسو شتون دی چې مستقل کار کوی لکه : اروپای کميسيون , اروپايي پارلمان او اروپايي محکمه .

ددی دپاره چې داتحاديې په کړو وړو باندی لړ غوندی خبر شو پکار ده جوړښت ته يې سر ور دننه او له نژدی نه يې وګورو :

اروپايي شورا ( لوړه غونډه ) :

دا شورا چې په عادی توګه په کال کې دوه ځله غونډی کوی , دغړو هيوادونو مشران او د اروپايي کميسيون رئيس وريکښی ګډون لری . ځينی وختونه دخارجې چارو وزيران هم ورته رابلل کيږی . دا په اتحاديه کې ترټولو لوړ ارګان دی او مهمی سياسی پريکړی لکه د UE پراخول , د UE تړونونه څيړل يا په نړيواله کچه د UE سياست ټاکل ددی شورا په دندو کې راځی . پدی شورا کی پريکړی يوازی دټولوغړو په همږغی او درايو په اتفاق ترسره کيدلای شی . دشورا رياست په نوبت سره د ٦ مياشتو دپاره ديوه غړی هيواد دمشر پرغاړه دی .

شورا :

دا په واقعيت کې د اتحاديې ترټولو لوړ تقنيني ( قانون جوړولو ) ارګان دی چې يا پخپله اويا دUE پارلمان سره په ګډه قوانين تصويبوی . شورا په قانون جوړولو کې دپارلمان مشوری اخلی اونظر يی اوری خو داخيرنيو پريکړو صلاحيت يې خپل دی . په اړوندو چارو کې د غړو هيوادو سکتوری وزيران ددی شورا غړيتوب لری , مثلاً که دچاپيريال په اړه دقانون تصويبولو ته اړتيا وی نو داړوندو هيوادونو دچاپيريال وزيران سره کښيني او شوراجوړوی . دلته هر وزير دخپل هيواد د وګړو په تناسب يو ټاکلې تعداد رايې لری . په شورا کې ځينی چاری په اکثريت سره غوځيږی خو دځينو ټاکلو چارو دپاره بيا درايو اتفاق ته اړتيا په پام کې نيول شويده . که څه هم نوموړې شورا تقنيني واک لری خو دتقنين ابتکار بيا دکميسيون دنده ګڼل شويده .

اروپايي کميسيون :

داکميسيون د EU دغړو په برابر ٢٧ تنه غړي لری . په کميسيون کې دبحث پروخت هريوغړی دخپل هيواد ګټی نه بلکه دټولې اروپا په کچه ګټې په نظر کې نيسی . دکميسيون رئيس داروپايي شورا په سپارښت او دپارلمان په تائيد ټاکل کيږی مګر غړی يې اړوند هيوادونه د پنځو کالو دپاره معرفی کوی .

کميسيون داروپايي شورا دپريکړو دعملي کولو په موخه تدابير نيسی او دقانون دابتکار صلاحيت لری . ددی خبری حقوقی مانا داده چې کميسيون دقانون جوړولو وړانديز کولای شی . په غړو هيوادونوکې د UE دتصويب شوو قوانينو دعملي کولو دکنترول چاری هم ددی کميسيون پرغاړه دی . که چيری کوم هيواد ديوه قانون څخه عدول ( تيری ) کړی وی , کميسيون کولای شی اروپايي محکمې ته يې راجع او د دعوی اقامه وړباندی وکړی

اروپايي محکمه :

نوموړې محکمه هم ٢٧ غړی لری او دنده يې داروپايي قوانينو څخه دسر ړغړونکو هيوادونو د دوسيو څيړل اوتعقيبول دی . دا محکمه د اتحاديې دغړو هيوادونو ترمنځ او همدارنګه د ځانګړو غړو هيوادو او اتحاديې ترمنځ کشالې څيړی او پريکړی کوی . دغړو هيوادونو محکمې کولای شی داړتيا سره سم ددی محکمې څخه مشوری اودابهام پروخت دقوانينو په هکله تفسير ترلاسه کړی .

اروپايي پارلمان :

تر ١٩٧٩ کال پوری ددی پارلمان استازی دغړو هيوادونو دپارلمانولخوا معرفی کيدل , خو لدی نه راپدی خوا په هرهيواد کې دمستقيمو ټاکنو دلاری ټاکل کيږی . په پارلمان کې د ٢٧ هيوادو څخه داستازو توليزتعداد ٧٨٥ تنو ته رسيږی چې دهرهيواد برخه دهغه د وګړو په تناسب ټاکل شويده . دبيلګی په توګه ډنمارک پدغو اخيرنيو ټاکنو کې ١٣ تنه ورته غوره کړه . پارلمانی ګروپونه دلته دهيوادو دتابعيت له مخی نه بلکه د ګډو سياسی نظرياتو پر بنسټ جوړيږی . مثلاً دټولو غړو هيوادو سوسيال دموکراتان پخپلو کې يو پارلمانی ګروپ جوړوی چې ګډی سلامشوری او ګډ وړانديزونه کوی . پارلمان حق لری دشورا او کميسيون نه پوښتنې اويا له دوی نه دسياسی ابتکار غوښتنې وکړی . پارلمان همدارنګه کولای شی دکميسيون څخه دباور رايه واخلي . دقانون دوړانديز صلاحيت دپارلمان دنده نه ده ځکه دا کار کميسيون ته سپارل شويدی .

دا وو داروپايي اتحاديې دجوړښت او کړو وړو په اړه اړين معلومات چې په لنډ ډول وړاندی شو او هيله ده هغو وطنوالو ته چې لاتراوسه يې پدی باره کی معلومات کم وو , په زړه پوری ګرځيدلې وی .

پای



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.